# فضل محمود مخفي صاحب

ماسټر عبدالکریم

ګاهے ګاهے بازخوان ایـن قصـهٔ پارینـه را هسې خو ټوله پښتونخوا د شنو زمرو نه ډکه پرته ده ولې د جندول، کونړ، ناوګۍ، چارمنګ او چینګۍ ترمېنځ یو ډېر نامتو او توریالے خېل پروت دے کوم ته چې پښتانهٔ مومند وائي څهٔ کم و زیات سل کاله به کېږي چې دلته کښې یو ډېر نېک سړے اوسېدهٔ نوم خو ئې قاضي نورمحمد ؤ ولې یادېدو به د بنګلې په قاضي صاحب. قاضي صاحب په خټه مومند ؤ، ولې د علم د رڼا پلوشې ئې تر یوسفزو او محمدزو خورې وې. د چارسدې کلي پراچګان به تر مومندو سلارزو، ملیزو، قاشقار (چترال) او تاشقند د قچرو په شا د سودا ځیزونه وړل راوړل. دې پراچګانو کښې لکه د درانو د خانانو ډېر نېکان عالمان او د درنو خویونو مشران تېر شوي دي. دا پراچګان خانان د بنګلې په قاضي صاحب جرګه شو او قاضي صاحب ئې د خپل ځائے نه چارسدې ته په کډه راوستهٔ. دوي کښې یو مشر او دیندار سړي قاضي صاحب ته لُور هم وبخښله. دا بي بي یوائې په ښېره ښکلې نهٔ وه، د علم او اخلاقو ښائست ئې هم سخت ډېر لرهٔ. دې بي بي په وړوکوالي ګلستان بوستان په یادو یاد کړے ؤ. د سرحد د اطلاعاتو د محکمې غړي فضل حق خان شېدا نیکانه هم ټول د قاضي صاحب شاګردان وو. د چارسدې مینې او هشنغر محبت د مومندو قاضي صېب په چارسده کښې ایسار کړو او د سوات او ملېزو جیندې خیالي یوائې د هشنغر د دوآبې تربې مزکه خړوبه نهٔ کړه بلکې د دوي علمي تنده هم د ملیزو د قاضي صاحب د برکته ماته شوه.

کهٔ هشنغر قاضي صاحب ته درانهٔ وکتل نو قاضي صاحب هم د هشنغر بدل پرې نهٔ ښودهٔ. قاضي صېب هشنغر ته یو داسې زوے وبخښهٔ چې یوائې هشنغر نه ټوله پښتونخوا په فضل محمود مخفي صاحب عمر له لکه تړي او کهٔ یو خوا مومندو د خپل د بنګلې قاضي صېب د چارسدې خاورې ته وسپارهٔ نو بل خوا هشنغر خپل نومور ے زو ے فضل محمود مخفي صېب د ملېزو پاکې او سپېڅلې غېږې ته ور ورسېدو.

مخفي صېب چرته په سکول یا مکتب کښې سبق نهٔ ؤ وئیلے. په نولسمه پېړۍ کښې خو به خلقو وئیل چې سبق د مدرسې وائي دپاره د پېسې وائي. اولس کښې به چرته خال خال سړے لیکونکے ؤ. بیا هم مخفي صاحب لسم په کور پاس کړے ؤ. نور علم هم مخفي صېب د بنګلې قاضي صېب نه په کالهٔ دننه زده کړے ؤ او د قاضي صېب د علم او عمل نمونه وه دا بېله خبره ده چې پښتونخوا مخفي صاحب پښتنو پسې په غاړو غړونو ګرځېدلے دے. د ایلم ځوکې ته ختلے دے او پښتنو ته ئې اوازونه کړي دي.

اې زما ننګيالي قامه وخت د ننګ او د سيالۍ دے
د دنيا په ډاګه عامه ګورې وخت د قامولۍ دے
چې خپل قام نۀ کړې بدنامه نن هر قام په ننګيالۍ دے
خدايه مړ دې لا وړومبے وے زۀ چې بل ته قام خجل وي
زۀ د قام په غم ژوندے يم دغه غم مې په زړۀ تل وي
په ځيګر سوے له دے يم سر کښې اور مې دے نه بل وي

او کله د لړم (دير په سر ناست په چغو سر شوے دے چې:

لويو تپو د پښتنو          په غر سم پرتو
درنو
نمسو د لويو پلرګنو          راځئ چې يو شو لېونو
يا لويه خدايه ورانه کړې سپېرۀ بېلتون لره دېره
خاوندو ته وډانه کړې زمونږ د يووالۍ حجره

يو ځائے پکښې له ځانه کړې د پښتنو ډله خوره
يو زړۀ يو ساه يو شانې کړې دې بېل او بېل پښتون لره

دا خبره د هيرولو نۀ ده چې مخفي صېب دا او د دې قسمه په زرګونو شعرونه د کال ۱۰ او ۲۰ په مېنځ کښې وئيلي دي. دا هغه وخت ؤ چې پښتو ليک ته د هر چا زړۀ مات ؤ. د دې شعرونو زور ته وګورئ او ژبې ته ئې وګورئ. څومره سوچه پښتو ده او د هر څۀ نه د قدر وړ دې قامي جذبې ته لا وګورئ. په داسې وخت کښې چې پښتو ژبې سره مينه او پښتونولي پالل خو ډېر لوئے شے ؤ. د پوليس د يو سُور پټکي د ويرې د پېرنګي نوم چا بې اودسه نۀ شو اخستے. په دغه ورځو کښې د مخفي صېب غوندې خلق ډېر په ګرانه سره موندے شو. دا خو يو باچا خان بل حاجي صاحب د ترنګزو رحمة الله عليه او بل مخفي صېب مرحوم ؤ چې په دغه نشه مست ګرځېدل. مخفي صېب به ماته قصې کولې چې مونږ به چرته د خبرو اترو دپاره يو ځائے کېدو نو د باچا خان د کور لارې اړخ ته يوه وړه کوټه فخر افغان زمونږ دپاره بېټک کړے ؤ، د دې کوټې ورونه به مونږ دننه نه پورې کړۀ. باچا خان به غني په غېږ کښې د کوره راؤښکه، غني به په قالين ستوني ستغ پروت ؤ. لتې به ئې وهلې غټه ګوته به ئې رودله او مونږ به د قام وير کاوۀ او چې چرته به ما چرې نوے نظم اورولو نو غني به راته شنې سترګې اړولې او خندل به ئې دا د کال ۱۹۱٤ء ؤ. څۀ موده پس چې مخفي صېب او حاجي صېب رحمة الله عليه دوي په دې خبره اړ شو چې دلته په سمه کښې د پېرنګي د زوره قومي کار کېدے شي او نۀ مذهبي. ښۀ به دا وي چې لکه د چمرکنډو، شمسو او د بونېر د مجاهدينو په ازادو قبائلو کښې کار روان کړو. ولې باچا خان ته د ظالم او جابر بادشاه د وړاندې سپينه وښا لوئے جهاد ښکارېدۀ نو هغوي ورسره نۀ شو لاړ. وروستو ئې په خپله فېصله وکړه چې مجاهدين سترې شو، حاجي صاحب مرحوم هغه خپله جذبه هم ځان سره د ګور خوا له ارماني ارماني يوړله او مخفي صېب لېونے شو ولې د دوي دغه درېم ملګرے دغه اولوالعزم انسان ژوندے دے او د خدائي خدمتګارۍ په برکت ئې هغه ظالم او جابر بادشاه د خپل ملک نه وښکلو او نن د ګردې پښتونخوا د پټکي ګل دے او د پاکستان د ژوند يو منلے شوے مشر دے.

ما مخفي صېب په ۱۹۳٤ کښې په ازاد سکول کښې په اول ځل وليدۀ دا بېله خبره ده چې د هغوي انقلابي او قومي نظمونو به ما د کال ۱۹۲۱ء نه د

ازاد اسلاميه هائي سکول د يو طالب علم په حېث په جلسو کښې وئيل په کال ۱۹۲٤ء کښې د ازاد سکول هېډ ماسټر وم مخفي صېب د ژوند يوه لويه برخه په قبائلو کښې تېره کړې وه ځان به ئې ښه سترے کوو، د کشمير نه واخله تر هرات او د هرات نه تر بلوچستان په دې غونډه پښتونخوا کښې ئې د پښتنو بده ورځ ژړلې وه او په خپله د لېونو په قطار شوے ؤ. د دير رياست "په مېدان" نومي علاقه کښې مخفي صېب دوکړې خان ته قرآن شريف په ترجمه ښودلو، دوکړې کښې يو مکتب ؤ، د دغه مکتب استاد په دې خيال چې دوکړې خان ته د مکتب استاذي چرته مخفي صېب ته ور نۀ کړي، د دير نواب صاحب ته چغلي وخوري چې مخفي صېب ځائے په ځائے د قوم خبرې کوې او دے ستا برخلاف د بغاوت بندوبستونه تړي. په دغه ورځو کښې په قام مئين او د قام رښتينے خادم به باغي ګڼلے شو، لکه څنګه چې هر قام پرست سړي ته خلق نن کميونسټ وائي. نواب صاحب ولګېدو مخفي صېب ئې د ملاکنډ پولټيکل ته حواله کړو او هغۀ کوز هشنغر ته راولېږۀ، دلته ما په ازاد سکول کښې د ځان سره استاذ واخست.

دا ورځې د مخفي صېب د استاذۍ نۀ وې او نۀ هغۀ کښې د ليک لوست څۀ طاقت پاتې ؤ. استاذي خو د زړۀ په زور کېږي. ما خو هسې د باقيات الصالحات په خاطر ورله وظيفه شان ورکوله او د باچا خان او حاجي صاحب رحمة الله عليه د يو ملګري په حېثيت مې هم د دعا ځائے ګڼۀ. باچا خان چې څۀ وخت په هندوستان کښې د يوې اوږدې نظر بندۍ نه ببرته وطن ته راغے او مخفي صېب ئې وليدۀ نو زمانه خو ډېر خوشحاله شو، ولې د هغۀ په حالت ډېر زهير شو. ځکه چې مخفي صېب اوس هغه مخفي صېب پاتې نۀ ؤ کوم چې هغوي ليدلے ؤ. هغه ژوندے مخفي هغه اولسي او قامي شاعر مخفي هغه جادو بيان او باغي مخفي خو اوس په ژوندوني مړګونے ؤ. زما ډېر ښۀ ياد دي باچا خان ته ئې و ئيل "باچا" هسې ځان مۀ سترے کوه، پېرنګيان دومره په اسانه نۀ ځي. تۀ اوس کښېنه لږ ارام وکوه، ما وظيفې شروع کړې دي، نور پېريان خو مې قابو کړي د يو څو مُضران دي هغوي سر پښې کوي چې دغه هم قابو کړم نو په دې پېريانو به درله زۀ پېرنګيان وباسم. باچا خان ډېر وخندل وئيل ئې مخفي صېب دې چوف او کوف خو پېرنګيان تر چتراله ورسول، د غه وسله دې پخوانۍ وسله ده، تۀ دعا کوه او ګوره چې خدائے څۀ کوي اوس خو پېرنګيانو له پښتنو يو ښکر مات کړے دے او هغه بل ئې ورله هم رقولے دے اوس خو راته پېرنګيان نور د ټينګې نۀ دي.

په کال ۱۹٤۲ء کښې ما شاه عالم خان ډائرېکټر صېب ته په سور رنګ يو خط وليکۀ چې د قوم د مرګ او ژوند سوال دے کۀ پښتون خدائے ازاد کۀ نو داسې ډېر مکتبونه به درله وچلوي او سکول مو د خپله لاسه د تعليم ډائرېکټر صېب ته حواله کړو، مونږ جېلونو ته لاړو سکول باندې محکمه تعليم قبضه وکړه او مخفي صېب په چولي دامان پاتې شو. د دير د نواب صېب ښاغلے او ځلمے زوے چې د مخفي صېب د زوم شاګرد ؤ چې هغه خبر شو نو مخفي صېب له به ئې د ګوزارې د پاره په پټه څۀ

وظیفه رالیږله. دا ښاغلے ځلمے نن د جندول خان په نوم د جندول نازولے حاکم دے. یوه ورځ نواب صاحب خدائے خبر چې زړۀ له ئې څۀ راغلي وو، د جندول خان استاذ ته ووې چې هلکه مخفي صیب دیر ته راتللے شي.

په کال ۱۹۴۶ء کښې د "خال" محمد شعیب په کوهستان سپټ باندې یادېږي. نواب صیب ته ووې چې نواب صیب مخفي صیب په هشنغر کښې لیونے شوے دے. نواب صیب د جندول خان استاذ د مخفي صیب د مرحوم زوم نه پوښتنه وکړه هغۀ وئیلے او صیب هر غریب سړے لیونے وي. نواب صیب ووې چې هلکه ماته نۀ دي وئیلي چې مخفي صیب اوس دیر ته راتلے شي. جندول خان چې دا خبره واورېده نو زر ئې د لارې خرڅ مخفي صیب ته چارسدې ته راواستوو او مخفي صیب بېرته دیر ته راغے، دیر کښې نواب صیب مخفي صیب ته د دیر سکول حواله کړو. شپږ نیمې شلې روپۍ ئې ورله د میاشتې وتړلې او خرڅ خوراک به ئې بېل ورکوو، جندول خان او نواب صیب کېدے شي چې دغه وخت د مخفي صیب زوم خوشحاله کړے وي ځکه چې د مخفي صیب زوم د جندول خان استاذ ؤ. ولې دا ننګیالے پلار او زوے څۀ خبر وو چې دوي د پښتنو یو قامي خادم لګیا ؤ خو مخفي صیب کښې اوس څۀ پاتې وو، هغه په رښتیا لیونے شوے ؤ او چې د دې لیوني قام خدمت ئې کاوۀ نو خود به لیونے کېدو. اخر دا اووۀ ځلوېښتم کال په پنځمه میاشت کښې په اتویشتمه ورځ (۲۸مۍ ۱۹۴۷ء) د پښتونخوا دا باغي شاعر هم په دیر کښې عمر له په خوارۀ خوب اودۀ شو.

انا لله و انا الیه راجعون

دیر ریاست کښې د تېمرګرې کلي ته مخامخ د بلامبټ د پلۀ نه پورې په یوه غونډۍ مانوګے نومې کلي پروت دے. دغه مانوګي کښې مخفي صیب ښخ دے.

نواب صیب مخفي صیب په مړوني هم وپالۀ په خپله لارې کښې ئې سرکاري عزت سره مانوګي ته راوړو او اوس هم د هغۀ بال بچ له د ګوزارې د پاره هر څۀ ورکوي.

میاشتنۍ مجله "لار" پېښور
(مارچ ۱۹۵۷ء)

# يو نظر دې خوا

اداره

د باچا خان ټرسټ د څېړنې څانګې ته د لاندينيو خدائي خدمتګارو د ژوند پوره او تفصيلي معلومات پکار دي ځوک چې د باچا خان د ځنګ، ننګ او پېرنګي استعمار خلاف د جنګ ملګري پاتې شوي دي او په خدائي خدمتګار تحريک کښې ئې د زړۀ له تله برخه اخستې وه، د ځانونو، مالونو او جائدادونو قربانۍ ئې ورکړې دي، د عدم تشدد په نظريه ټينګ ولاړ پاتې شوي دي، تشدد ئې ګاللے دے، جېلونه ئې تېر کړي دي او خپلې ځوانۍ ئې لَو لور کړې دي، کۀ ځوک څېړنکار په دغه شخصيتونو کوټلي ليکونه کولے شي او مونږ ته ئې راواستوي نو مننه به ئې کوو. مونږ د دغو خدائي خدمتګارو ځنې نامې لاندې درج کوو کۀ له دوي نه علاوه نور ښاغلي مشران د چا په خواوشا کښې داسې تېر شوي وي نو د هغوي په حقله هم خپل معلومات راستولے شئ. کۀ تصويرونه ئې پېدا کېږي نو دا به نوره هم غوره وي.

صاحبزاده خورشيد د ادينه، علي اصغر د مردان، قاضي عطاءالله خان د مردان، سېد فضل لطيف د بدرګې، عبدالخالق خليق د ماڼکي شريف، شاد محمد خان مېرے د رځړو چارسدې، فضل رحيم ساقي د وردګې چارسدې، عبدالمالک فدا د بابړې چارسدې، ماسټر عبدالکريم د اتمانزو چارسدې، ستي جان د چارسدې، احمد کاکا د بابړې چارسدې، مولوي تاج محمد خان د بغدادې مردان، مولوي عنايت الله د طورو مردان، راحت خان بابا د سخا کوټ ملاکنډ ايجنسۍ، رفيق شالدا د تانې ملاکنډ ايجنسۍ او کانګرسي کاکا، ډاکټر خان صېب، سالار يعقوب خان د بنو، کاکاجي صنوبر حسېن مومند د کړې ولې پېښور، اميرنواز خان جليا د اتمانزو، اميرزاده خان د بخشالي ګجرات مردان، عبدالطيف افندي، عاشق شاه باچا د بډه بېرې، حافظ جسيم الدين د مردان، جېلاني کاکا د مردان، حکيم عبدالسلام د هري پور هزارې، ازاد خان کاکا جدون د ايبټ آباد، حاجي فقيرا خان، سالار داؤد خان، ثمين جان خان د محب بانډې پېښور، ميا محمد شاه ستي، ارباب عبدالغفور، سېف الملوک خان خوېشکي، علي ګل خان د پېښور، سېد بلال بادشاه د پېښور، يحيٰي جان خان (د بابا زوم)، غلام محمد ګاما د پېښور، عبدالعزيز خان کاکا د زېدې، حکيم سېدالابرار د محب بانډې مردان، مرزا تاج محمد خاموش، خادم محمد اکبر، سالار ربنواز خان، قاضي حبيب الرحمان د بنو او داسې نور ډېر.

هيله لرو چې زمونږ درانۀ لوستونکي به مونږ سره د قلمي امداد په حېث خپله رابطه وساتي او د باچا خان د ملګرو خدائي خدمتګارو د ژوند حالات او واقعات به په تفصيل سره مونږ ته راواستوي ځکه چې د دې ښاغليو نامې د سرو زرو په اوبو د ليکلو دي او دا ټول مشران د پښتو، پښتون او پښتونخوا فخر دي. په مينه او مننه